# رغونه
## اونیزه

د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

صفرالمظفـــر/۱/، ۱٤٤٧ هـ.ق کال
زمری/اسد/۴/ ۱۴۰۴ هـ.ش کـــال

لومـړی کال، پرلـه پسـې ۲۳مـه ګڼه

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست


## په دې ګڼه کې لولئ:


بلخ — کار بازســازی و زیباســازی چهارراهی ســانچارکی به بهره برداری رسید

غور — شــاروالی فیروزکوه کار پــروژه جغل اندازی سرک های فرعی ناحیه اول این شــهر را آغاز نموده است

ننګرهار — د اچین او شــینوارو لوی ولســوالیو ترمینځ سرک دواړو غاړو د تخریب شــویو ساحو جوړیدلو کار دوام لري

هرات — افتتــاح و آغاز کار پــروژهء احداث کانــال در گذرهای مختلف ناحیهء اول شهر هرات

کندهار — د کندهار ښــار په اوومه ناحیه کې د یوه فرعي سرک د جوړولــو چارې پــه دوه فازه کې په اســاسي ډول پیل

هرات — آغــاز کار اعمار دو باب گلخانــهء تکثیری در پارک‌های پل پشــتون و باغ شیدایی شهر هرات

کندهار — د کندهــار ښــار په مختلفــو ناحیو کې د ســړکونو پینه کارۍ کولو پروژه پیل شوه

میدان وردګ — میدان ښــار په غازي محمد جان خان ښارګوټي کې د ســړې خونې د بنسټ ډبره کېښودل شوه

غزني — غزني ښــار د شــمس صاحب د ســرک رغونې چارې دوام لري

پکتیا — ګردیز ښــار څلورلارو او ګلدانونو کــې د ونو، زینتي بوټو او شنو ســیمو د خړوبولو چارې روانې دي

نیمروز — برگزاری حشر عمومی به هدف پاکی شــهر زرنج

هرات — کار زیرســازی پروژهء کانکریت ریزی کوچهء مکتب باغ نظرگاه در ناحیهء هشــتم شهر هرات ادامه دارد


## غزني ښــاروالۍ د ١٦ میلیونه افغانیو په لګښــت د پنځو تفریحي پارکونو جوړولو چارې پیل کړې



غزني

## خوست ښــار دویمه او دریمه ناحیه کې د سړکونو اسفالټ طبقې چارې پیل شوې



خوست

## جلال اباد ښــار اتمــه ناحیه کــې د ۷،۷ میلیونو افغانیو په ارزښــت د یوه فرعي ســړک د جوړولو کارونه پیل شول



ننګرهار

## ملا عـــزت الله خالص آمر شـــوراها و مجالس ریاســـت شاروالی مزارشریف در جریان اعطای مهر به وکیل گذر ۱۹ ناحیه دهم شـــهر مزارشریف گفت که وکیلان گذر باید وظایف خود را بدون کم و کاستی به درستی انجام دهند و به مشـــکلات مـــردم به اسرع وقت رســـیدگی نمایند.




## فراه کې د ښاروالی له لورې د ۲۰ تنو قاریانو ترمنځ د حسن قرائت سیالي ترسره شوه




د دغې ســـیالي د پرانیســـتې پر مهال د فراه ښاروال مفتي سردار محمد مرصاد زیاته کړه چې دغه ســـیالي یې له علماوو او طالـــب العلمانو سره د ګډې ناســـتې، اسلامي او شرعي کلتور د ودې، خپریـــدو، پیاوړتیا او فراهـــي ځوانو قاریانو د هڅونې په موخه په لاره اچولې ده.

نوموړي همدارنګه وخت تیریدونکی، لنډ او د بې ځایه وخت تیریـــدو پایله بې ګټـــې وبلله او لـــه ټولو قاریانـــو څخه یې وغوښتل؛ چې له وخت او شته فرصت څخه په ګټې اخیستنې سره دې نورې لاسته راوړنې هم ولري.

بل خوا د ښاري حکومتولی آمر وویل؛ چې په دې سیالی کې د دغه ولایت د ۱۰ پېژندل شوېو او یو شمیر نورو دیني مدرسو ۲۰ تنو قاریانو برخه اخیستې وه او یوه ورځ یې دوام وموند.

پـــه ورته وخت کې د دغې ســـیالی د لومـــړي او دوهم مقام ګټونکو قاري حبیب الله او حافظ احمد رســـولي بیا له یادې سیالي، د مســـؤولینو له پاملرنې، دې کار او هڅونې څخه د مننې، ستاینې او خوښـــې ترڅنګ ورته پروګرامونه هم ګټور وباله.

نومـــوړو همدارنګه د داســـې پروګرامونو پـــر لا زیاتوالي او تر ولسوالیو پورې په غځولو باندې هم ټینګار وکړ.

د یادوني وړ ده، چې د ســـیالی پای کـــې د لومړي، دوهم، دریيم او ځلورم مقـــام ګټونکو ته ګټې غټې او وړې ډالۍ هم وویشل شوې.

## ریس ســـکتوری و تخنیکی شاروالی مزارشریف جهت حل مشکلات ساکنان نواحی هشتم و نهم با بزرگان این نواحی دیدار کرد




اســـتاد محمـــد جاوید مایـــار، رئیس ســـکتوری و تخنیکی شاروالی مزارشریف با به منظور رحل مشکلات نواحی هستم و نهم با ریش ســـفیدان و بزرگان نواحی نواحی مذکور دیدار و به خواسته‌ها و مشکلات آنها گوش فرا داد.

رئیس ســـکتوری و تخنیکی شاروالی مزارشریف به باشندگان ای نواحی گفت: شاروالی مزارشریف همیشه تلاش می‌کند تا به خواسته‌ها و مشکلات شهروندان گوش فرا دهد و برای حل آنها تلاش کند.

ســـاکنان نواحی هشـــتم و نهم از اقدامـــات و فعالیت‌های شـــاروالی برای توســـعه و پیشرفت شـــهر قدردانی کردند و خواسته‌ها و مشـــکلات خود را جهت راه حل با آقای مایار در میان گذاشتند.

رئیس ســـکتوری و تخنیکی شـــاروالی مزارشریف با دقت به خواسته‌ها و مشکلات ساکنان نواحی هشتم و نهم گوش فرا داد و وعده سپرد که به زودی به مشکلات رسیدگی خواهد شد.

## کار بازســـازی و زیباسازی چهارراهی ســـانچارکی به بهره برداری رسید




کار بازسازی و زیباسازی چهارراهی سانچارکی توسط شاروالی مزارشریـــف به همکاری شرکت هیرتیچ بـــه هزینه ۳،۵ میلیون افغانی در شهر مزارشریف تکمیل و به بهره برداری سپرده شد.

شـــاروال مزارشریف گفت: بازسازی و زیباســـازی چهارراهی سانچارکی شامل ساخت و نصب کتارهای فلزی، نصب سنگ های مرمر در پیاده روها، ســـاخت دو فواره آب زیبا در دو جزیره اطراف، نصب چراغ تنویر و تزئین، نصب پایه ها جهت برافراشتن بیرق ها و سرسبزی می‌باشـــد که کار آن در مدت دو ماه کاری تکمیل و به بهره برداری سپرده شد.

همچنان آقای همت برای شهروندان شهر مزارشریف اطمینان سپرد که جهت آبادی، پیشرفت و تغییر مثبت در چهره و سیمای شهر، پروژه های بیشتر را در این راستا تطبیق خواهد کرد.

از سوی دیگر شهروندان شهر مزارشریف از کارکردها و فعالیت های اخیر شـــاروالی مزارشریف اســـتقبال نمودند و آنرا جهت پیشترفت و ترقی شهر مهم خواندند.

## د کنړ اسعداباد ښار کې په بهرنیو ژبو لیکل شوې لوحې لرې کړل شوې




په اسعداباد ښار کې هغه لوحې چې په بهرنیو ژبو لیکل شوې وې لرې کړل شـــوې، د مرکزي هدایاتو سره سم د ولایتي ګډ کمیســـون له لورې په ښار کې د لوایحو د اصلاح په موخه په مسلسل ډول عامه پوهاوی وشو، چې د دغې برخې ورورسته عملي اقدامو په ترڅ کې د هغو هټیوالو لوحې د کمیســـون د خبرتیا وروســـته یې نه وې ښـــکته کړې د کمیسون په شتون ښـــکته او د ځینو لوحو څخه د رنګ په مټ خارجي کلیمات رنګ شول.

د لوحو د اصلاح په موخه به دا لړۍ دوام لري.

## فراه ښـــار کې د ښـــاري شرعي کلتور د رواجولـــو او عامه پوهاوي کنفرانس ترسره شو




دغه کنفرانس، چې موخه یې د ښاري شرعي کلتور رواجول او د عامه پوهاوي لوړول وه، د فراه ښاروال ښاغلي مفتي سردار محمد مرصاد تولو ګډونوالو ته د ښـــه راغلاست ترڅنګ وویل چې ښاروالي ریاست له لورې د دغســـې پروګرامونو  په لاره اچول کیږي او زیاته یې کړه، چې ښاروالی دا خپل مکلفیت ګڼي، چې ورته پروګرامونه په لاره واچوي او ښـــاریانو ته عامه پوهاوی ورکړي.

نوموړي همدارنګه ښار د ټولو ګډ کور یاد کړ او ټول یې د ښار په جوړونه، سمسورتیا او پاکوالي باندې مکلف وګڼل.

د بل خوا د ښاري حکومتولی آمر ښاروالی ریاست د ټولنې د ځواني پوړې، دیني مدرســـو، ښوونځیو او ښـــوونیزو مرکزونو ملاتړ کونکی وبلله او زیاته یې کړه، چې ښاروالی  هڅه کوي، ترڅو په ښـــار کې د دوی له لارې ښـــاري کلتور دود کړي او ښاریانو ته په دې برخه کې عامه پوهاوی هم ورکړي.

## د فراه ښاروالۍ د څلورمې ناحیې مدیر په مشرۍ د نوموړې ناحیې گذر وکیلانو سره د همغږۍ ناسته ترسره شوه




د یادې ناحیې مدیر له لورې گذر وکیلانو ته د ښـاروالۍ عوایدو راټولو او زیاتوالی، د ښـاریانو ســتونزو او وراندیزونو ته پروخت رسـېدنې، د ښاري سمسـورتیا، ښـار پاکوالي سره د بشپړې همکارۍ په موخه لازمې لارښوونې وشوې.

بل اخوا د ناحیې گذر وکیلانو د فراه ښـاروالۍ له کړنو او لاسته راوړنو ستاینه وکړه او د ښاروالۍ سره د هر اړخیزو همکاریو ډاډ یې ورکړ.

## د مهترلام ښـار د یو شمیر ویالو او پلچکونو پاکوالي چارې ترسره شوې




د مهترلام ښـاروالۍ د لومړۍ ناحیې د تنظیف کارکوونکو له لورې، د ښــار د بېلابېلو ســاحو د ویالو او پلچکونو د پاکولو چارې ترسره شوې.

یادو فعالیتونو کې له ویالو څخه خځلې، ختې، کثافات او نور جامد مواد ویســتل شــول، ترڅو د اوبو بهېدل بېرته عادي حالت ته راوگرځي او د ســیلابونو یا د اوبو د ډنډېدو مخه ونیول شي.

مهترلام ښاروال مولوي رحمت الله شهامت ټینگار کوي چې دا ډول خدمات به دوامداره وي او د ښار پاکوالي، ښېرازي او منظم ښاري چاپېریال د رامنځته کولو لپاره به ورته فعالیتونه نور هم پراخ کړي.

هغه همداراز له ښاریانو غوښتنه کوي چې د ښار د پاک ساتلو په برخه کې له ښـاروالۍ سره همکاري وکـړي او کثافات د ښاروالۍ له لورې په لگول شویو کثافت دانیو کې واچوي.

## د غزني ښــاروالۍ له لورې د لښتیو د پاکوالي چارې ترسره شوې




د غزني ښاروالۍ ریاست د دویمې ناحیې د تنظیف مدیریت له لورې، د قصابیو او طلا پلورونکو سرک اړوند لښتې له خځلو او عضوي موادو څخه په بشپړ ډول پاک شول.

یاده صفایي چې د شــپې له خوا ترسره شوه د ښار د پاکوالي ښې ښـکلا او د روغتیايي چاپېریال د تأمین په موخه ترسره شوې ده.

د پاکوالي پر مهال ټولې خځلې د لاسي وســایلو او ماشینونو په وسیله ټول او انتقال شول ترڅو د اوبو د بندېدو بدبویه هوا او روغتیايي ستونزو مخه ونیول شي.

د دویمې ناحیې مدیر وویل چې ښــاروالۍ هڅه کوي د ښار ټول لښتي پاک وساتي او دا لړۍ په ټولو سیمو کې روانه ده.

نوموړي له ښاریانو وغوښتل چې د ښار د پاکوالي په برخه کې له دې اداري سره همکاري وکړئ او خپل کثافات مشـخصو ځایونو ته انتقال کړئ.

د غزني ښاروالۍ ریاست ژمن دی چې د ښاري نظم پاکوالي او عامه هوساینې په موخه خپلې هڅې لا پیاوړې کړي.

کارکنان تنظیف و سرسبزی شـاروالی میمنه، کثافات جاده تربت جان بابا، جاده هــرات، جاده میسره، جاده لودیــن و پیاده‌رو اطراف پارک مرکـزی را جمع آوری و انتقال دادند و همچنان این جاده ها را جاروب‌کشـی و پاک کاری کردند که در بهبود امور زندگی شهروندان و محیط پاک مؤثر است.




جلسه هماهنگی مدیریت ناحیه دوم شاروالی چاریکار با نماینده ریاست کار و امور اجتماعی و نمایندگان اهالی ناحیه دوم به هدف نیاز سنجی، مشکلات مردم و دریافت راه‌حل برای چالش‌های پیشرو در دفتر کار مدیر ناحیه دوم برگزار شد و در موارد مذکور بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

پروان ۱۱

## شاروالی فیروزکوه کار پروژه جغل اندازی سرک های فرعی ناحیه اول این شهر را آغاز نموده است




کار پروژه جغل اندازی سرک های فرعی ناحیه اول شــاروالی فیروز کوه ولایت غور با حضور داشت والی ولایت غور، رؤسای ادارات امارتی، اعضای بورد مشورتی، وکلای گذر، نمایندگان رسـانه ها و شماری از شــهروندان فیروز کــوه رسما افتتاح گردید.

این پروژه که طول آن ۱.۳ کیلو متر است، قرار است در مسیر آن دو پایه پلچک و ۴۵ متر دیوار استنادی نیز اعمار گردد که با هزینه ۲۶۲۵۶۶۰ افغانی از عواید داخلی شـاروالی فیروز کوه تمویل میگردد.

## شاروالی فیروزکوه کار فنس بندی ساحات سبز و پارک های شاروالی را آغاز نموده است




کار فنس بندی ساحات سبز و پارک های شاروالی فیروز کوه ولایت غور با حضور داشــت والی ولایت غور، رؤسای ادارات امارتی، اعضای بورد مشورتی، وکلای گذر، نمایندگان رسانه ها و شماری از شهروندان فیروز کوه رسما افتتاح گردید.

این پروژه که طول آن ۳۴۹۰ متر است، با هزینه ۱۲۸۰۷۵۰ افغانی از عواید داخلی شاروالی فیروز کوه تمویل میگردد.

## د اچین او شینوارو لوی ولســوالیو ترمیمځ سرک دواړو غاړو د تخریب شویو ساحو جوړېدلو کار دوام لري

د اچین او شینوارو لوی ولسوالیو ترمیمځ سرک دواړو غاړو چــې بارانونو اوبو یــې سرک غاړې تخریــب کړې وې د جوړېدلو کار یې دوام لــري او هم د یاد سرک په قومیزو ساحه کې پلچک چې بند شــوی وو د سره به په اساسی ډول جوړ شي.

د یادې ســاحې څخه اچین ښــاروالۍ پرسونل او قومي مشرانــو او ځوانانو له نږدې لیدنه ترسره کړه او د ښــه کار سپارښتنه یې ورته وکړه.

ننگرهار ۱۴

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو ادارې لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

رغونه اونیزه

د ولایاتــو او ولســوالیو ښــاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

## حشر صفایی در پارک تفریحی ریگروان توسط شاروالی محمودراقی راه اندازی گردید




برگزاری حشر صفایی در پارک تفریحی ریگروان توسط شاروالی محمودراقی

شاروالی محمودراقی در ادامه تلاش های خویش جهت بهبود وضعیت محیط زیست شهری و ارتقای فضای تفریحی، امروز با راه اندازی حشر عمومی صفایــی، پارک تفریحی ریگروان را از وجود کثافات و زباله ها پاکسازی نمود.

این برنامه توســط مدیریت تنظیف و سرســبزی شــاروالی با همکاری و هماهنگی مدیریت ناحیه دوم شهر محمودراقی اجرا شد. در جریان این اقدام، تمام بخش های پارک تفریحی مورد پاک کاری و جمع آوری قرار گرفت.

هدف از ایــن حشر ایجاد محیطی پاک، آرام و مناســب برای اســتفاده شــهروندان و خانواده‌ها و ترویج فرهنگ حفاظت از محیط زیست در میان مردم می‌باشد.

شاروالی محمودراقی با تأکید بر اهمیت فضای سبز و پاکیزگی شــهری، همچنان به اجرای برنامه های منظم صفایی و محیط زیستی در نقاط مختلف شهر ادامه خواهد داد.

## د کندهار ښــار په اوومه ناحیه کې د یوه فرعي سرک د جوړولو چارې په دوه فازه کې په اساسي ډول پیل شوې

کندهار ښــاروالۍ د خپلو پراختیایي فعالیتونو په دوام، دا ځل د ښار په اوومه ناحیه کې د یوه مهم فرعي سرک د اســاسي رغونې چارې پیل کړې دي. دا سرک چې د هرات عمومــي سرک او د پنجوایــي دو راهي عمومي سرک سره وصــل کوي، ټولټــال ۱۱۱۵ متره اوږدوالی لــري او رغنيزې چارې يې په دوه فــازه کې پر مخ وړل کيږي.

دا د یاد سرک دوهم فاز دی، چې د اوومې ناحیې د اتم گذر اړوند دی. دا مهال یې د کندن کاري چارې رواني دي. د دې دوهمې برخې اوږدوالی شــاوخوا ۵۰۵ متره او پلنوالی يــې ۸ متره دی. رغنيزې چارې يې ۷ ورځې مخکې پیل شوې دي او پاتې کارونه به يې د ۳ میاشتو په موده کې بشپړ شي.

د دې پراختیایي پروژې په دوهم فاز کې اوس مهال ۳۵ کسانو ته د کار کولو زمینه برابره شوې ده.

د همدې فرعي سرک په جوړېدو سره د ســیمې خلکو زیاته خوښــي ښودلې او د کندهار ښــاروالۍ څخه يې ځانګړې مننه وکړه.

کندهار ۱۶

## افتتاح و آغاز کار پروژه‌ء احداث کانال در گذرهای مختلف ناحیه‌ء اول شهر هرات




کار پروژه‌ء احداث کانال در گذرهای نوایی ۳، ابن‌ســینا ٦ و باغ مــراد ۱۱ به طول مجموعــی ۴۵۰ متر و کانکریت‌ریزی جاده‌ء ابن‌سینا ٦ به طول ۲۲۰ متر با عرض‌های مختلف، به هزینه‌ء مجموعی حدود ســه میلیون و دوصد هزار افغانی از بودجه‌ء انکشافی شاروالی هرات آغاز گردید.

محفــل به منظور افتتــاح این پروژه برگــزار گردید که در آن مولوی جلال‌الدین حقدوست، معاون اداره‌ء شاروالی هرات، رئیس تخنیکی و مســلکی، رئیس حکومت‌داری شهری، آمر ناحیه‌ء اول، مشاور حقوقی و شرعی شاروالی، بزرگان، وکلای گذر، رؤسای شوراهای انکشافی محل حضور داشتند.

در همیــن حال، باشــندگان ناحیه اول شــهر هــرات ابراز امیدواری می‌کنند که با تکمیل کار این پروژه مشکلات رفت و آمد و آب‌گرفتگی در گذرهای شان کاهش یافته و تسهیلات زیادی برای شان فراهم خواهد شد.

گفتنی‌ست که کار این پروژه قرار است طی ۱۲۰ روز تقویمی از سوی شرکت قراردادی تکمیل و به بهره‌برداری سپرده شود.

## آغــاز کار اعمار دو باب گلخانه‌ء تکثیــری در پارک‌های پل پشتون و باغ شیدایی شهر هرات




کار پــروژه‌ء اعمار دو باب گلخانه‌ء تکثیــری در پارک صلح پل پشتون و پارک باغ شیدایی، به هزینه‌ء سه میلیون و هفتصد هزار افغانی از بودجه‌ء انکشافی شاروالی هرات افتتاح گردید.

محفل که همین مناسبت برگزار گردیده بود در آن مولوی جلال الدین حقدوست، معاون اداره‌ء شاروالی هرات، رؤسای تخنیکی و مســلکی، حکومت‌داری شهری، مســئولان آمریت تنظیف و سرسبزی، و شماری از مسئولان بخش‌های مربوطه‌ء این اداره، و نماینده شرکت قراردادی نیز حضور داشتند.

از ســوی دیگر، مسئولان بخش سرسبزی شــاروالی هرات می گویند که در این گلخانه‌ها، تولید قلمه و تکثیر گل‌های زینتی برای تزیین پارک‌ها و فضاهای سبز شهری در نظر گرفته شده و این اقدام، نقش مهمی در توسعه‌ء فضای سبز شهر ایفا خواهد کرد.

گفتنی‌ست کار این پروژه قرار است طی دو ماه تقویمی از سوی شرکت قراردادی تکمیل و به بهره‌برداری سپرده شود.

## د محمود راقي ښــاروالۍ له لوري د ده بابا علي د شنبه بازار څخه کنټرول او څارنه ترسره شوه




د بازارونــو د منظمــې څارنــې او کنټــرول په لــړ کې، د محمودراقي ښــاروالۍ کارکوونکو نن شــنبه د ده باباعلي د شنبه بازار څخه د څارنې چارې ترسره کړې.

دغه څارنه چې د ښاري نظم د ټینګښت، د چاپېریال ساتنې او د ښــاري اصولو د تطبیق په موخه ترسره شوه ، د پلیو لارو خلاص ســاتل ، د غړيزې ککړتیا مخنیوی، د ښاري سرغړونو مخنیوی، د معیاري تیګو څخه په راکړه ورکړه کې استفاده او یو شمېر نور مهم موارد شامل وو .

د ښــاروالۍ مســؤولین ډاډ ورکوي چې دا ډول څارنې به په دوامداره توګه ترسره کېږي څو ښاري چاپېریال لا منظم، پاک او د اوسېدونکو لپاره مناسب وي.

## برنامه آموزشی شــاروالان ولســوالی‌های چهار ولایت در شاروالی چاریکار پایان یافت




برنامه آموزشی چهار روزه برای شاروالان و کارمندان شاروالی های ولسوالی‌های ولایات کابل، پروان، کاپیسا و پنجشیر که در تالار جلسات شاروالی چاریکار برگزار شده بود با مؤفقیت به پایان رسید.

در جریان این برنامه ورکشاپ‌های تخصصی و معلوماتی برای مدیریت‌های مختلف ادارات شاروالی به هدف ارتقای ظرفیت کاری و بهبود روند خدمات شهری راه اندازی شد.

مولوی عبدالصمد عمــری، رئیس تفتیش داخلی ریاســت عمومی انسجام امور شــاروالی‌ها ضمن قدردانی از برگزاری برنامه، بر اهمیت محتوای آموزشــی ارائه‌شده تأکید کرد و از مســئولین خواســت تــا آنچــه را آموخته‌اند در راســتای مسئوولیت‌های وظیفوی خود عملی سازند.

همچنین حافظ راز محمد یاسر، شــاروال شــهر چاریکار با اســتناد به آیات قرآن کریم و احادیــث شریف به مقام والای اخلاص، تلاش و خوش‌رفتــاری با مردم در وظایف شــهری پرداخت و شاروالان را نمایندگان نظام در میان مردم دانست که باید با جدیت وظایف خود را انجام دهند.

این برنامه با دعای خیر مولــوی کمال‌الدین محمدی، مدیر عمومی حکومتداری شهری شــاروالی محمود راقی به پایان رسید.

## موزائیک کاری پیاده روها و ساخت گلدان های مقابل مارکیت تجارتی سینافر در شهر مزارشریف ۹۵٪ به پیش رفته است




به اثر سعی و تلاش حافظ عبدالرحمن همت، شاروال مزارشریف، موزائیک کاری پیاده روها و ساخت گلدان های مقابل مارکیت تجارتی سینافر، شروع از شفاخانه مادر الی لیسه افغان-ترک پسرانه در مربوطات ناحیه سوم شهر ۹۵٪ فیصد به پیش رفته است.

در ساخت این پیاده روها و گلدان‌ها، نصب سنگ ها و جدول ها، پیپ کشی گلدان ها، سرسبزی و غرس گل های زینتی شامل می‌باشد که با ساخت آن زیبایی خاص در این ساحه ایجاد خواهد شد و گام مهمی در جهت گسترش سرسبزی به شمار می‌رود.

## د کندهار ښار په مختلفو ناحیو کې د سړکونو پینه کاري کولو پروژه پیل شوه




کندهار ښاروالۍ د خپلو انکشافي فعالیتونو په دوام د ښاري خدمتونو د لانبه والي، د سړکونو د ساتنې په موخه د ښار په بېلابېلو سیمو کې د تخریب شویو سړکونو د پینه کاري کولو چارې پیل کړې.

په دې پروژه کې به پنځه زره متره مربع هغه سړکونه پینه کاري شي کوم چې هغه د مختلفو عواملو له کبله تخریب شوي او د عامو هیوادوالو ته یې ګڼې ستونزې رامنځته کړې وې.

د یادې پروژې چارې به د یوې میاشتې په موده کې بشپړې شي او هیره دې نه وي چې په نوموړې پروژه کې هره ورځ ۲۵ کسان په فني او غیري فني ډول په کار کولو بوخت دي.

د دې پروژې په پلي کولو سره به د تګ راتګ اسانتیاوې، د ټکرونو مخنیوی او د ښار ښکلا رامنځته شوې وي.

یادونه: پر یاده پروژه څلور میلیونه افغانۍ لګښت راځي چې د کندهار ښاروالۍ د انکشافي بودجې څخه ورکول کیږي.

کندهار ښاروالۍ ژمنه ده چې د ښاري خدمتونو په برخه کې به خپلې هلې ځلې جاري ساتي؛ ترڅو د ښاریانو ژوند لا اسانه او خوندي شي.

## غزني ښاروالۍ د ۱۶ میلیونه افغانیو په لګښت د پنځو تفریحي پارکونو جوړولو چارې پیل کړې




د غزني ښاروالۍ ریاست د خپلې داخلي بودجې په مټ د ښار په بېلابېلو سیمو کې د پنځو تفریحي پارکونو د جوړولو او ترمیم چارې پیل کړې چې تولیز لګښت یې ۱۶ میلیونه افغانۍ اټکل شوی دی.

د دغې پروژې د پرانیست غونډې پر مهال د غزني ښاروال مولوي محمدنبي حمزه وویل د ښاري چاپېریال د سمون او د خلکو د تفریح لپاره مو د پنځو پارکونو د رغونې چارې پیل کړې دي.

په دغو پارکونو کې فروخي څلور لارې ته څېرمه ملت پارک د درې جریبه ځمکې په مساحت، دربیم پلان کې څلور جریبه پارک او درې نور پارکونه چې د رهایشي کورونو مخې ته موقعیت لري شامل دي.

په یادو پارکونو کې به رغنیز او ترمیمي کارونه ترسره شي.

هغه زیاته کړه چې په ملت پارک او دربیم پلان پارک کې به د ناستې لپاره څوکۍ سایبانونه (تم ځایونه) او د ماشومانو لپاره د اوبو حوضونه هم جوړ شي ترڅو خلکو ته مناسبه تفریحي فضا برابره شي.

د نوي فولاد ساختماني شرکت مسؤول انجنیر دوست محمد جغتوال هم د کارونو د پیل پر مهال وویل دغه پروژه به په اساسي ډول طرحه او پلې شي چې د ۷ میاشتو په موده کې به بشپړه شي.

د ښاروالۍ په وینا دا پارکونه به د ښار ښکلا چاپېریالي پاکوالي او د ښاریانو د تفریح لپاره نوې هیلې را ژوندۍ کړي.

**ګردیز ښاروالۍ د ملګرو ملتونو دفتر یونپس پر مټ د ګردیز ښار پنځمې ناحیې دولت زیو سیمه کې د (۶۰۰) مترو په اوږدوالی د (۵) متر پلنوالي په لرلو د کانکریټي سړک او ورته اوږدوالي د سړک یوې غاړې ویالو جوړولو کار د معیار سره سم په ښه ډول ترسره کړ.**

**ګردیز ښاروالۍ د کار کیفیت ته ژمنه ده، باورمنده اوسئ د پاتې پروژو کارونه به هم په ښه ډول ترسره شي.**




## خوست ښاروالۍ له لوري د سړکونو اساسي رغونه روانه ده




د خوست ښاروالۍ اړوند دویمه او دریمه ناحیه کې د ډاکټر بابري ګل کلینیک مخې ته د سړک پاتې برخه باندې اسپرو واچول شوه او ډېر ژر به یې د اسفالټ طبقې کار شروع شي.

یاده ساحه چې د ښار یوه پر نفوسه برخه ګڼل کیږي، هغوی ته په پام ښاروالۍ د یادو سړکونو د چارو کیفیت ترڅنګ د چارو په چټکتیا زیات ټینګار وي؛ ترڅو رغنیز بهیر د ښاریانو په وړاندې خنډونه او ستونزې جوړې نه کړي.

د یادونې وړ ده، چې د یادې پروژې چارې د ښاروالۍ د مشرتابه او د انجینري ټیم له‌خوا منظمې تر څار لاندې نیول شوي، چې ورسره د چارو کیفیت خورا مثبت روان دی.

## خوست ښاروالۍ دویمه او دریمه ناحیه کې د سړکونو اسفالټ طبقې چارې پیل شوې




د خوست ښاروالۍ له پراختیایي بودجې څخه، دا مهال په دویمه او دریمه ناحیه کې د بابري ګل خصوصي کلینیک مخې ته د روانې پروژې د سړکونو اسفالټ طبقې چارې پیل شوې او ډېر ژر به د وایرینګ طبقې کارونه هم پیل شي.

یاده پروژه د اکبر نصرت ساختماني شرکت لخوا روانه ده، چې په تطبیق سره به یې هغه ټولې ستونزې هوارې شي، چې له دې وړاندې ښاریان، ځانګړې توګه ناروغان او ناروغ لرونکې ورسره مخ وو او همدارنګه به ښار ته ځانګړې ښکلا ور زیاته کړي.

د یادونې وړ ده، چې خوست ښاروالۍ تېره اوونۍ په شپږمه ناحیه کې د نږدې ۲۱ میلیونه افغانیو په ارزښت یوه پروژه پیل کړه، چې له بې پروژې څخه تر اداري کمپلېکس پورې د سړک اساسي جوړونه، لښتې او ګلدان پکې شامل دي.

رڼونه
اونیزه

د ولایاتــو او ولســوالیو ښــاروالیو د فعالیتونو او
لاسته راوړنو خبري اونیزه

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

### پروژه سرک شــفاخانه حوزوی شهر میمنه تا کنون ۴۵ درصد پیشرفت داشته است.




با تکمیل ریخــت‌کاری دیوارهای دو طرف کانال، این پروژه وارد مرحله جدید شده و به‌زودی کار خاک برداری و فرش ریزی سرک و پیاده‌روها آغاز می‌شود.

**کار پروژه آســفالت جادهء جبرئیل به طول ۱۲۵۰ متر به عرض ۱۰.۵ متر، همراه با احداث کانال‌های دو طرف آن بــه طــول ۲۵۰۰ متر و پلچک‌های جانبــی آن به طول ۷۰متر بــه هزینهء حدود ۱۳ میلیــون افغانی از بودجه انکشافی شاروالی در ناحیهء ســیزدهم شهر هرات به سرعت جریان دارد.**




**کار پروژه کانکریت ریزی کوچه مکتب میرمن حیاتی و جاده‌های امیر علی شیر نوائی به طول مجموعی ۱۰۱۶ متر و عرض اوســط ۸ متر، همراه بــا احداث ۲۰۷ متر کانال به هزینــهء بیش از ٦ میلیــون افغانی از بودجه انکشافی شاروالی هرات به سرعت جریان دارد. قرار اســت که کار این پروژه طــی چهار ماه تقویمی از سوی شرکت قراردادی تکمیل و به بهره‌برداری سپرده شود.**




### لښــکرگاه ښاروال د ۱۳ ناحیې د اوسیدونکو او استازو سره ولیدل




د لښکرګاه ښاروال حافظ صدیق صاحب په خپل کاري دفتر کې د لښکرګاه ښار اړوند د ۱۳ ناحیې د اوسیدونکو په استازولی د يادي سیمې د سپین ږیرو او مخورو سره ولیدل.

د سیمې اوسیدونکو خپل ستونزې د حافظ صدیق صاحب سره شریکې کړې، د حل په موخه یې د ښاروالی ځخه غوښتنه وکړه.

لښــکرګاه ښاروال حافظ صدیق صاحب د سیمې مخورو ته ښه راغلاست وویل او مربوطه امریت ته یې هدایت وکړ چې د موضوع د حل په موخه ګډ هیئت دې وټاکل شي ترڅو د موضوع د حل لپاره اساسي حل لاره ولټول شي.

حافظ صاحب په خپل خبرو کې زیاته کړه: د اسلامي امارت ټولو ادارو دروازې د ولس پر مخ خلاصې دي هر شــخص هر وخت کولای شي چې خپلې ســتونزې او غوښتنې د مسؤولینو سره شریکې کړي او مسؤلین به یې په ورین تندي د اصولو په رڼا کې عملي کوي او ستونزو ته به د حل لارې لټوي.

### فراه ښــار د مرکز اړوند عسکر اباد سرک رغنیزو چارو ځخه خارنه ترسره شوه




د فراه ښاروالی له لوري د مرکز اړوند عسکر اباد سرک د رغولو له ابتدایي چارو ځخه د خارنــې او ارزونې امر مولوي محمد شاه شاکر لیدنه او څارنه وکړه، ښاغلي شاکر ډاډ ورکړ، چې دا او دې ورته نورې ټولې پراختیایي چارې به په پوره شفافیت او رونتیا سره ترسره کېږي، نوموړي زیاته کړه موږ ته د ولســونو لومړیتوبونه او کیفیت لومړیتوب لري او د همدې موخو ترلاسه کولو لپاره نه ســتړې کېدونکې هڅې کــوو وخت ناوخت له پروژو ځخه څارنه کوو.

باید ووېل شي، چې دغه سرک د ولایت مقام په مالي ملاتړ د ۲۹ میلیونه ۸۹۹ زره ۷۹۱ افغانیو په لګښت جوړېږي چې ۱.۷ کلیو متره اوږدوالی او ۴۰ متره پلنوالی لري.

### جلال اباد ښار له څلورمې ناحیې ځخه د کثافاتو انتقال چارې ترسره شوې




د جلال اباد ښاروالی د تنظیفاتي خدمتونو په دوام د تنظیف او سرســبزی امریت له لوري د ښــار د څلورمې ناحیې ځخه د راټولو شویو کثافاتو د انتقال چارې ترسره شوې.

د تنظیف او سرسبزی امریت په چوکاټ کې هره ورځ د ښار له نهه ګونــو ناحیو نه په اوســط ډول ٦۵۰ متر مکعب کثافات مناسبو ځایونو ته انتقالیږي.

د جلال اباد ښــاروالی رهبري له تاسو درنو ښاریانو غوښتنه کوي چې د ښار په پاکوالي کې د ښاروالی له کارکوونکو سره بشپړه همکاري وکړئ.

### ګردیز ښار څلورمې ناحیې اړوند د زاړه بازار سیمه کې د یوه فرعي سرک په کانکریټي ډول جوړولو پروژې چارې په ښه ډول جریان لري




دغه پروژه د ګردیز ښــار ختیځه برخه کې له مهمو پروژو ګڼل کیږي، چې په جوړیدو سره به یې د ســیمې اوســیدونکو د ټولنیزو اســانتیاوو سربېره د ښار ښه بدله او ښار سړکونه به د خاورې او محیطي ککړتیاو تر ډېره خوندي شي.

په زاړه بازار کې د کلیوالي ســړک دغه فرعي کرښه د (۸۴۵) مترو پــه اوږدوالي او بیلابیــل پلنوالي په لرلــو سره د ملګرو ملتونو دفتر یونپس، ګردیز ښــاروالی او سیمې خلکو سره په بشپړې همغږی د اړتیا له مخې په ښنه کړې.


ګردیز ښــاروالی د ملګرو ملتونو یونپس دفتر له مســؤولینو ځانګړې مننه کوي، چې ګردیز ښاروالی سره په ښې همغږی خپلو ښــاریانو هوساینې په موخه، د اړتیا وړ پروژې پلي کوي او زیات شــمېر بې روزګاره ښاریانو ته پکې د کاري بوختیاوو زمینه هم برابره شوې ده.




# رغونه
اونیزه

## د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

### اسعداباد ښار کې یو شمیر د قصابانو خونې د غیر قانوني چلند په اساس مهرلاک شوې





کنړ ۳۴

د اسعداباد ښاروالۍ د ښاري خدمتونو مدیریت له لوري په ښار کې هغه قصاب خونې وتړل شوې چې د مؤظف ډاکټر له لوري غوښه ورته ټاپه او تائید شوې نه وه.

د دې لپاره چې د اسعداباد ښاریانو ته صحي او با کیفیته غوښه عرضه شي د اسعداباد ښاروالۍ په لومړۍ ناحیه کې د حیواناتو د ذبحې لپاره ځانګړی ځای (مسلخ) جوړ کړې چې د حلالې وروسته ورته غوښه مهر او د خرڅلاو قابل کیږي.

### د محمودراقي ښاروالۍ له خوا د استوګنیزو کورونو سروې د صفایي محصول تثبیت په موخه ترسره شوه




کاپیسا ۳۵

د ښاري خدمتونو د ښه‌والي او د صفايي محصول د دقیق تثبیت په موخه محمودراقي ښاروالۍ د ښار په لومړۍ ناحیه کې د استوګنیزو کورونو سروې پیل کړې ده.

یاده سروې د ښاروالۍ د انکشافي پلانونو له مخې ترسره کیږي، ترڅو د صفايي محصول مدیریت شفاف، منظم او اغېزمن شي.

په دې لړ کې، نن د زاغګیرا سیمې پاتې برخه سروې شوه.

### رنگمالی کتاره‌های فلزی ناحیه دوم شهر که به منظور حفاظت از گل‌های زینتی و درختان در سطح شهر ساخته شده‌اند آغاز گردید و کار آن توسط انجنیران مدیریت عمومی خدمات تخنیکی و مسلکی ریاست شاروالی شهر سرپل نظارت می‌گردد.



سرپل ۳۶

### ترینکوټ ښاروالۍ تالار کې د ښاري نظم او پراختیا کمیسیون نوبتي غونډه تر سره شوه

د ترینکوټ ښاروالۍ تالار کې د ښاري چارو د ښه تنظیم او سم مدیریت په موخه د ښاري نظم او پراختیا کمیسیون نوبتي غونډه ترسره شوه.


یاده غونډه کې د ولایت مقام، چاپیریال ساتنې او د ټرافیکو امریت د استازي په شمول د یو شمیر نورو ملکي ادارو استازو هم ګډون کړی وو.

د غونډې په پیل کې د یاد ریاست د تخنیکي او مسلکي چارو عمومی مدیر خالقداد امیني ټولو ګډونوالو ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل په ښار کې د ښاري چارو سم مدیریت د یو معیاري ښار جوړول یاد کړل. نومورې زیاته کړه کـه چیرې ټولې اړونـدې اداري لا په منظمه توګه د ښاري نظم راوستو په موخه خپلې همغږۍ او همکارۍ دا ډول جاري وساتي. په ښاري سیمو کې به مو د خدمتونو وړاندې کول په یو منظم او اغیزناک ډول تر سره شي.

غونډه کې د ښاري چارو منظمول او سم مدیریت، د ښاري خدمتونو پر کیفیت، د ښاري بېنظمیو مخنیوی، د ننګونو او ستونزو حل او یو شمیر نورو مهمو موضوعاتو بحث او خبرې وشوې.

اروزګان ۳۷

### کندهار ښاروالۍ د ۸ ناحیې اړوند د هرات هډې له هوټلونو، خوړنځایونو، او قصابانو څخه نظارت ترسره کړ



کندهار ۳۸

د کندهار ښاروالۍ د مارکیټونو تنظیم مدیریت، د اتمې ناحیې امریت او د اړوندې حوزې په همغږۍ دا ځل د ښار په اتمه ناحیه کې د هرات هډې له هوټلونـــو، خوړنځایونو او قصابانو څخه د نظارت چارې د لایحې مطابق ترسره شوې.

په دې نظارت کې د هوټلونو او خوړنځایونو مسؤولینو او کارکوونکو ته سپارښتنې وشـــوې چې د نظافت او پاکوالي اصول په جدي ډول مراعات کړي. همداراز ټینګار وشـــو چې اشـــپزان باید د صحت رســـمي کارټونه ولري، کارکوونکي دې مشخص لباس واغوندي، د صفايي جوازونه دې نوي کړي او د ســـبزیجاتو لپاره ځانګړې شوې ورځ دې مراعات شي.

همدارنګه، مســـؤولینو قصابانو ته سپارښتنه وکړه چې د نظافت اصول مراعت کړي او غوښې دې په خوندي او پاکو ځایونو کې وساتي.

مسؤولینو ټینګار وکړ، چې د لایحې مطابق ټولې لارښوونې باید ژر تر ژره عـــملي شي، د نه عملي کېدو په صورت کې به ورسره قانوني او اصولي چلند کیږي.

### با تکمیل مرحله سیخ‌بندی سقف منزل سوم، کار پروژه اعمار مدیریت ناحیه پنجم واقع در گذر افغانکوت میمنه تا کنون ۶۰ درصد پیش‌رفت داشته است. کار این پروژه با سرعت جریان دارد و کارهای تأسیسات داخلی از جمله برق‌کشی و نلدوانی منازل تحتانی در حال اجرا است.



فاریاب ۳۹

### حرکت کاروان همدلی از ناحیهٔ پنجم شهر برای انتقال هموطنان برگشتی از ایران



هرات ۴۰

کاروان بزرگ همدلی با ۲۰۰ عراده وسایط نقلیه امروز سه شنبه (۳۱ سرطان) از سوی وکلای گذر، رؤسای شوراهای انکشافی و باشندگان ناحیهٔ پنجم شهر هرات باحضورداشت و هماهنگی مسؤولان مربوطه شاروالی جهت انتقال هم وطنان برگشتی از ایران، به‌سوی مرز اسلام‌قلعه حرکت کرد.

این کاروان شامل موترهای تریلر یخچالی، کاستر، ملی‌بس، فلان کوچ، تونیس و ده‌ها موتر شخصی دیگر می‌باشد.

در مراسم اعزام این کاروان، رئیس حکومت‌داری شهری، مشاور حقوقی و شرعی شاروالی، آمر ناحیهٔ پنجم و شماری از مسئولان بخش‌های مربوطه این اداره حضور داشتند.

ادارهٔ شاروالی هرات ضمن قدردانی از روحیهٔ همبستگی و همکاری مردم شریف ناحیهٔ پنجم، از سایر نواحی و اقشار جامعه نیز می‌خواهد تا در راستای حمایت از هم‌وطنان نیازمند برگشتی از ایران، سهم فعال بگیرند.

### کمیسیون کنترول قیمت ها در شاروالی قلعه نو ولایت بادغیس، با حضور نمایندگان ادارات ذیربط به‌هدف جلوگیری از گران‌فروشی و تأمین حفظ‌الصحه از بازار شهر قلعه‌نو نظارت به‌عمل آورد که در جریان این نظارت، فروشگاه‌های مواد غذایی، خبازی‌ها و دیگر اصناف از نظر کیفیت اجناس، وزن متریک و رعایت اصول صحی بررسی شدند.

بادغیس ۴۱

**کارکنان تنظیف و سرسبزی شاروالی شکردره ولایت کابل به منظور حفظ زیبایی محیط زیست شهری، تقویت سرسبزی و بهبود فضای زندگی شهروندان، نهال ها و گل های گلدان سرک بازار قلعه مرادبیک را آبیاری نمودند و همچنان یک پایه کثافت دانی را نیز در تلاشی امنیتی پولیس نصب کردند.**



شکرده/کابل ۴۲

**پروژه آسفالت جاده شرکت پشم به طول ۳۰۰ متر و عرض ۷ متر همراه دو طرف جویچه مربوط ناحیه نهم شاروالی هرات تحت نظر هیئت‌های مؤظف (سه شنبه ۲۶ محرم الحرام) قبل از ظهر طی جلسه علنی با حضور داشت آمر تدارکات و قراردادها، مسؤولین بخشهای مربوطه و نمایندگان شرکت‌های اشتراک کننده در سالون جلسات این اداره آفرگشائی گردید.**



هرات ۴۳

## سرک چهل متره در ناحیه دوم شهر سرپل سروی و نقطه گذاری شد



سرپل ۴۴

سروی و نقطه‌گذاری سرک چهل متره حلقوی از جوار قومندانی امنیه الی سرک حلقوی امام صاحب خورد، توسط انجنیران مقام ولایت، ریاست شاروالی شهر سرپل و ریاست شهرسازی و مسکن ولایت سرپل به گونه مشترک و دوامدار در حال اجرا می باشد.

این روند به منظور تثبیت مسیر دقیق سرک و فراهم‌سازی زمینه آغاز پروژه اعمار سرک مطابق پلان‌های انکشافی شهری به پیش برده می‌شود.

ریاست شاروالی شهر سرپل با همکاری نهادهای مربوط، متعهد به بهبود زیرساخت‌های شهری و فراهم‌سازی سهولت‌های لازم در رفت‌وآمد برای شهروندان می‌باشد.

## جلسه بورد مشورتی شاروالی محمودراقی برگزار گردید

جلسه بورد مشورتی جهت رسیدگی به مشکلات شهروندان و بهبود هماهنگی در امور شهری، تحت ریاست مولوی عبیدالله حسام، شاروال محمودراقی با حضور اعضای بورد در تالار جلسات شاروالی محمودراقی برگزار گردید.

شاروال محمودراقی از همکاری اعضای بورد سپاس گزاری نمود و موضوعات جلسه گذشته را مورد بررسی قرار داد. در این جلسه در مورد حفظ جویچه های سرک صیاد، تعیین معاون و منشی بورد، تعیین محل مناسب برای توقف ریکشا های نوآباد و ریگوان، و برنامه ریزی بازدید از گذرها و نواحی شهر بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

کاپیسا ۴۵

**مدیریت عمومی تنظیف و سرسبزی شاروالی شهر چاریکار ولایت پروان، زباله‌های عقب مسجد ویس قرن و گذر چارسوق مربوطات ناحیه اول را انتقال دادند و گلدان‌های محدوده شهری چاریکار را از وجود گیاهان هرزه رهایی بخشیدند.**



پروان ۴۶

## ګردیز ښار خلورلارو او ګلدانونو کې د ونو، زینتي بوټو او شنو سیمو د خړوبولو چارې رواني دي

د ښار زرغوني برخې د خلکو لپاره د تفریح او ذهني ارامۍ لامل کیږي او ګردیز ښاروالۍ سرسبزۍ برخې کارکوونکي زیار باسي خو د دغه برخو ساتنې ته ځانګړې پاملرنه وکړي.

درنو ښاریانو! د هر نیالګي، چمن او پارک ساتنه د هر وګړي مسؤولیت دی. که هر څوک خپله ونډه اداء کړي، نو کولای شو، یو زرغون، پاک او سالم چاپېریال ولرو.

پکتیا ۴۷

**پروژه کانکریت ریزی سرک پل صیاد در ناحیه اول شهر سرپل به هزینه ۸۶۷۳۰۰۰ افغانی از بودجه انکشافی این اداره تکمیل گردیده است.**

سرپل ۴۸

## میدان ښار په غازي محمد جان خان ښارګوټي کې د سړې خونې د بنسټ ډبره کېښودل شوه



میدان وردګ ۴۹

د غازي محمد جان خان په پروژه کې د یو میلیون امریکایي ډالرو په ارزښت د یوې سترې سړې خونې د جوړېدو بنسټ ډبره کېښودل شوه. دا پروژه د ښاروالۍ، کور او ښار جوړولو او کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ ریاستونو په همغږۍ او همکارۍ، د خصوصي سکتور له لوري پیل شوې ده.

د سړې خونې مجموعي ظرفیت له ۲۰۰۰ څخه تر ۲۵۰۰ ټنه دی، چې د سیمې کرنیزو محصولاتو د ساتنې، صادراتو او ارزښت زیاتونې لپاره به مهم رول ولوبوي.

په پروژه کې شاوخوا سل کسانو ته د کار زمینه برابرېږي او تمه ده چې د جوړېدو چارې یې په نږدې دوو میاشتو کې بشپړې شي.

د پرانیستې په مراسمو کې د میدان وردګو والي قاري بختیار معاذ د اړوندو ریاستونو مسؤولینو، پانګوالو او ښاریانو حضور درلود.

چارواکو دا پروژه یو مهم اقتصادي ګام وباله، چې د عامه او خصوصي مشارکت یو بریالی مثال ګڼل کېږي.

## میدان ښار د نیالګیو او پارکونو د خړوبولو چارې په ښه ډول رواني دي



میدان وردګ ۵۰

د میدان ښار ښاروالۍ د تنظیف او سرسبزۍ مدیریت له لوري د ښاروالۍ ریاست د اړوندو پارکونو د نیالګیو، بوټو او چمنونو د خړوبولو سربیره د ښار په مختلفو برخو کې د سرک غاړې نیالګیو او بوټو د خړوبولو چارې د منظم پلان له مخې ترسره کیږي؛ ترڅو زرغون چاپیریال خوندي او د وچیدو له خطر څخه وساتل شي.

# د ولایاتــو او ولســوالیو ښــاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

## غزني ښار د شمس صاحب د سړک رغونې چارې دوام لري


غزني ۵۱

د غزني ښاروالی ریاست د ښاري پراختیا او اساسي خدمتونو د پیاوړتیا په هدف د ملګرو ملتونو د دفتر په مالي همکارۍ د ښار د لومړی ناحیې اړوند د شـــمس صاحب د سړک د رغونې پروژه پیل شوې چې کارونه یې په چټکۍ سره روان دي.

یاد ســـړک چې د نوآباد له اصلي پاخه سړک څخه پیلیږي او تر شمس مدرســـې پورې غځیږي ټولټال ۵۳۳ متره اوږدوالی او ٦ متره پلنوالی لري. دغه ســـړک به د کانکریټ په جوړښـــت سره ورغول شي څو د دوامدار کیفیت او بار وړتیا ولري.

د انجینري معیارونو پر بنسټ به په پروژه کې د اوبو ایســـتلو سیستم د سړک غاړې تنظیم او اړین ساختماني موارد هم په پام کې ونیول شي.

د ښـــاروالی د تخنیکي ټیم د معلوماتو له مخې تمه ده چې دا پروژه به د دریو میاشتو په موده کې بشپړه شي.

په یادې پروژې کې شاوخوا ۴۰ تنو محلي کاریګرو ته د کار زمینه برابره شـــوې چې دا چاره د بیکارۍ کچـــه راکمولو او د ټولنیز اقتصاد د ودې لامل هم کېږي.

د پروژې مسؤولین وايي دغه پروژه د ښاري اوسېدونکو د غوښتنو پر بنسټ طرحه شوې او د تطبیق له پیل سره سم یې د خلکو خوښي راجلب کړې.

هڅه کوو چې پـــروژه د لوړ کیفیت او تخنیکي معیارونو مطابق ترسره کړو.

د یادونې وړ ده چې د شـــمس صاحب د سړک د رغولو په پروژه کې شـــاوخوا ۸ میلیونه افغانۍ لګښـــت راځي چې ټولې مالي سرچینې یې د ملګرو ملتونو له خوا تمویلیږي.

د غزني ښـــاروالی مســـؤولین ډاډ ورکوي چې دغـــه پروژه به د شـــفافیت حســـاب ورکونې او تخنیکي اصولو په رڼا کې پر مخ بیوول شي څو د ښـــار اوسېدونکي له باکیفیته او معیاري سړک څخه برخمن شي.

**کمیته تنظیم شهر شاروالی قلعه نو ولایت بادغیس، از جاده‌ها نظارت به‌عمل آورده و پیاده روهای بازار گنج، بازار حاجی عزیز و اطراف مسجد جامع شریف را پاک‌سازی و برای رفت وآمد شهروندان بازگشایی نمود.**

بادغیس ۵۲

## فراه ښاروال د نهه رغنیزو پروژو د پلي کوونکو شرکتونو له مسؤولینو سره د همغږۍ ناسته وکړه



فراه ۵۳

فراه ښـــاروال مفتي سردار محمد مرصاد د ښاروالی د تخنیکي او مسلکي چارو امر انجنیر شاه محمود جلالي او تخنیکي پرسونل په ملتیا د یو شمېر قراردادي شرکتونو له مسؤولینو سره د رغنیزو پروژو د ښه تطبیق په موخه د همغږۍ ناسته ترسره کړه.

ښاغلي ښاروال د ناسته ګډونوالو ته ښه راغلاست ووایه او زیاته یې کړه: ښار زموږ او ستاسې ګډ کور دی، نو لازمه ده چې په بیارغونه او ابادۍ کې ټول یو ځای کار وکړو.

نوموړي وویل، ټول هغه شرکتونه چې دا مهال د ښاروالی ریاست له خوا قراردادونه لـــري او یا هم په عملي توګه کارونه پیل کړي، باید خپلې چارې د منظور شوي پروپوزل او نقشې مطابق پرمخ یوسي.

ښاغلي مرصاد ټینګار وکړ چې د پروژو پر وخت پلي کېدل خورا مهم دي، ځکه دغه پروژې د ښاریانو لپاره د ټرانسپورټي او ښاري سهولتونو رامنځته کولو په هدف پلي کېږي. هغـــه زیاته کړه چې باید ټول شرکتونه د ټاکل شویو ساختماني نورمونو او معیارونو په رڼا کې خپلې پروژې بشپړې کړي.

په ورته وخت کې د قراردادي شرکتونو استازو ډاډ ورکړ چې خپلې پروژې به د کیفیت، معیار او وخت په پام کې نیولو سره ترسره کړي.

باید وویل شي چې د فراه ښاروالی ریاست لخوا به د نږدې راتلونکو ورځو کې د نهه رغنیزو پروژو چارې رسماً پیل شي.

## ګردیز ښـــار خلورلارو او ګلدانونو کـــې د ونو، زینتي بوټو او شنو سیمو د خړوبولو چارې روانې دي



پکتیا ۵۴

د ښار زرغونې برخې د خلکو لپاره د تفریح او ذهني ارامۍ لامل کېږي او ګردیز ښاروالی سرسبزي برخې کارکوونکي زیار باسي څو د دغه برخو ساتنې ته ځانګړې پاملرنه وکړي.

درنو ښـــاریانو! د هر نیالګي، چمن او پارک ســـاتنه د هر وګړي مسؤولیت دی. که هر څوک خپله ونډه اداء کړي، نو کولای شو، یو زرغون، پاک او سالم چاپېریال ولرو.

## برگزاری حشر عمومی به هدف پاکی شهر زرنج



نیمروز ۵۵

برنامه حشر عمومی پاکی سازی، با حضور وکلای گذر، متنفذین قومی، جوانان، کارمندان امارت و شـــهروندان شهر زرنج ولایت نیمروز برگزار گردید.

شرکت‌کنندگان با همبستگی و مسئولیت‌پذیری به پاک‌سازی نواحی اول و دوم شهر زرنج پرداختند.

شـــاروالی زرنج از همکاری صادقانه همه سپاسگزاری نموده و تأکیـــد ورزید ه چنیـــن برنامه‌هایی به صـــورت منظم ادامه خواهند یافت.

**ماشینری شاروالی شهر چاریکار ولایت پروان به منظور عبور لوله آب آشامیدنی برای ساکنان پارچه نهم (۹C)، اقدام به حفاری ساحه مورد نظر نموده است تا هرچه زودتر زمینه دسترسی این باشندگان به آب آشامیدنی فراهم گردد.**

پروان ۵٦

## خوســـت ښـــار اوومه ناحیه کې د ســـړکونو جارو او لښتیو صفایي چارې ترسره شوې


خوست ۵۷

د خوست ښاروالی اړوند اوومې ناحیې د تنظیف برخې مسؤولینو لخوا په یاده ناحیـــه، قلموال مبنه کـــې د پلان مطابق د هغو ســـړکونو د جارو او لښـــتیو د صفایي چارې ترسره شوې، چې کثافات یې ځانګړې ځای ته انتقال کړل.

د یادونې ده، چې د اوومې ناحیې په ایجاد سره، په قلموال مبنه ښارګوټي کې د ښـــاروالی له لوري د پیاده‌رووتو د خلاصون، د سړکونو د جارو، په مختلفو ګدرونو کې د سړکونو د هوارۍ او بیا د جغل اچونې، سرســـبزۍ او نورو ورته برخو کې د ســـیموالو په همکارۍ د پام وړ کار ترسره شـــوی او اوســـېدونکي یې اوس د ښاروالی او ښاري اصولو سره بلدتیا لري.

رغونه اونیزه

د ولایاتــو او ولســوالیو ښــاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

## میدان ښـار د ته جایي نه تحویلولـو له امله هټۍ مهرلاک شوې



میدان ۵۸

د میدان ښـار ښاروالۍ د مهرلاک په پار ټاکل شوې کمیټې له لوري تېره ورځ په میدان ښـار بازار کې د کرنې امریت ته څېرمه ساحه کې هغه کانټېنرونه مهرلاک شول چې د څو څله خبرتیاوو سربېره یې د خپلو کانټېنرونو ته جایي د ښاروالۍ ریاست ته نه ده تحویل کړې.

د یادې کمیټې د غړو له لوري په ورځني ډول په میدان ښار بازار کې د تنظیم په موخه کړنې ترسره کېږي، د ښاري تګلارو خلاف کړنې په نښه کېږي او د ټاکل شویو تګلارو سره سم یې پر وړاندې اقدام کېږي.

## جلال اباد ښـار اتمــه ناحیه کې د ۷،۷ میلیونـو افغانیو په ارزښت د یوه فرعي سړک د جوړولو کارونه پیل شول



ننګرهار ۵۹

د جلال اباد ښاروالۍ تر چتر لاندې د نړیوال بانک په مالي ملاتړ او د UNOPS مؤسسې په تخنیکي همکارۍ د اتمې ناحیې په ۳۵ ګـذر کې د ۵۹۰ مترو په اوږدوالي او د ۵ مترو په پلنوالي د یوه فرعي سړک او ویالو جوړولو کارونه پیل شول.

د جلال اباد ښاروالۍ د تخنیکي او سکټوري چارو رئیس انجنیر وحیدالـلـه مخلص، د ناحیې امر مولوي رحمـت الله فاروق، د ناحیې انجنیر احمد شـاه رضوان، د تخنیکي او سکټوري چارو ریاست انجنیر عبدالشکور سمسور او ورسره مل پلاوي د پروژې پیل له کارونو لیدنه وکړه او مسؤولینو ته یې لازمې سپارښتنې وکړې.

په یاده پروژه کې د سیمې ۵۸ تنه کاریګر کار کوي. ۷،۷ میلیونه افغانۍ لګښـت پرې راځي چې د نړیوال بانک له لوري ورکول کېږي. یاده پروژه به په راتلونکي درېو میاشتو کې بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د سیمې اوسېدونکو د جلال آباد ښاروالۍ تر چتر لاندې د یادې پروژې په ترسره کولو خوښي وښوده او په راتلونکې کې یې د لا نورو پروژو د پلي کولو غوښتنه وکړه.

د دې پروژو د تطبیق موخه د افغانستان په ښارونو او کلیو کې د لنډ مهالـه کاري فرصتونو، لومړنیو خدمتونـو وړاندې کول، د داخلي بې ځایه شویو او له ګاونډیو هېوادونو څخه راستانه شویو کډوالو لپاره د کار کولو زمینه برابرول دي.

د جلال اباد ښاروالۍ رهبري هڅه کوي چې په تدریجي ډول د داخلي عوایدو او همکارو مؤسسو په مرسته د ښار ټول عمومي او فرعي سړکونه په اساسي ډول ورغوي.

## حرکت کاروان کمک‌رسـانی باشـندگان ناحیهء دوم شهر هرات برای هم‌وطنان برگشتی از ایران



هرات ۶۰

باشـندگان ناحیهء دوم شـهر هرات با راه‌انـدازی کاروانی متشـکل از حدود ۶۰ عراده موتر، از جمله یک موتر بس نوع ۳۰۳، ۱۰ عراده موتر دیزل تمام و موترهای شخصی به همراه بسته‌های کمکی، جهت کمک و انتقال هم‌وطنان برگشتی از ایران، راهی مرز اسلام‌قلعه شدند.

این کاروان شامل بســته‌های مواد غذایی، اقلام بهداشتی و یک تیم سیار صحی بوده که با هدف خدمات‌رسانی مؤثرتر به مهاجران برگشتی، اعزام گردید.

در جریان اعزام این کاروان، آمر ناحیهء دوم و مشاور حقوقی و شرعی شـاروالی نیز حضور یافتــه و از تلاش‌ها و همکاری وکلای گذر، رؤسای شوراهای انکشافی و مردم ناحیهء دوم در حمایت از هم‌وطنان برگشتی از ایران قدردانی کردند.

ادارهء شاروالی هرات از این اقدام شایسته استقبال کرده و از سایر شهروندان خواستار تداوم همکاری در راستای حمایت از هم‌وطنان نیازمند می‌باشد.

## کار زیرســازی پروژهء کانکریت ریــزی کوچهء مکتب باغ نظرگاه در ناحیهء هشتم شهر هرات ادامه دارد



هرات ۶۱

کار زیرسازی پروژهء کانکریت ریزی کوچهء مکتب باغ نظرگاه در ناحیهء هشتم شهر هرات ادامه دارد

کارپروژهء اعمار کانال بدون سیخ سرباز به طول ۶۸۰ متر در ابعاد( ۰.۷ * ۰.۶۵ ) متر و کانکریت ریزی کوچه مکتب باغ نظرگاه به طول ۳۴۰ متر به هزینهء حدود ۳ میلیون افغانی از بودجه انکشافی شاروالی در ناحیهء هشتم شهر جریان دارد.

قابل یاد آوری اسـت که کار این پروژه قرار است طی ۸۰ روز تقویمی از ســوی شرکت قراردادی تکمیـل و به بهره‌برداری سپرده شود.

## برای عودت کنندگان ولایت پروان مساعدت صورت گرفت



پروان ۶۲

به دعوت مفتی محمد ادریس انوری والی ولایت پروان و حافظ رازمحمد یاسر شاروال شهر چاریکار ، رئیس گروپ کمپنی‌های بشیر نوید و بنیانگذار بنیاد خیریه مرحوم حاجی گل آغا پروانی برای بیشتر از دوهزار خانواده‌ی عودت کننده از کشـور ایران ، مواد غذایی کمک نمود.

این برنامه با اشتراک بزرگان امارتی ولایت پروان ، بزرگان قومی شـهر چاریکار ، تاجران ملی و محلی، عودت کنندگان ولایت پروان برگزار گردید.

حافظ رازمحمد یاسر شاروال شهر چاریکار ضمن سپاس گزاری از کمک و مساعدت بنیاد خیریه مرحوم حاجی گل آغا پروانی برای عـودت کنندگان ولایت پروان، برای همـکاری های بیشتر در عرصه تهیــه سرپناه و اشــتغالزایی برای مهاجـران و عودت کنندگان در آینده‌های نه‌چندان دور نوید داد.

شاروال شهر چاریکار از تاجران و سرمایه‌داران ملی و محلی در بخش‌های ایجاد زمینــه کار برای عودت کنندگان خواســتار همکاری گردید.

رئیس این بنیاد در ســخنرانی خود ضمن سپاس‌گزاری از والی ولایت پروان و شاروال شهر چاریکار، افزود؛ این کمک‌ها معطوف به امروز نخواهد بود و در آینده نیز برای عودت کنندگان همکاری در بخش اشتغال‌زایی و ساخت سرپناه، صورت خواهد گرفت .

در اخیر، برنامه مســاعدت با توزیع بسته‌های کمکی که شامل مواد غذایی و غیر غذایی است به پایان رسید.

**ریاســت شــاروالی انجیل ولایت هرات، طی محفلی با حضور مسؤولین مقام ولسـوالی، وکلای گذر، رؤسای شــورا و نمایندگان اصناف انجیل پروژه های انکشافی سال مالی ۱۴۰۴ خویش را افتتاح نمود.**




هرات ۶۳